# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

| www.afgazad.com | afgazad@gmail.com |
|---|---|
| Political | سیاسی |


ليکنه: حميدالله بسيا
۰۸ جنوری ۲۰۲۵

## لوږه او جګړه

لوږه، فساد، جنګونه او په نړۍ کې اقليمي تغييرات لامل شوي دي چې په نړۍ کې ډېر خلک د لوږې له بحران او مړيني سره مخ شي. همدا اوس د نړۍ د نفوس ۱۱ فيصده د لوږې سره مخامخ دي او هره شپه له اته سوه ميليونه ډېر کسان وږي ويده کېږي او د (ايف اي او) سازمان د شمېرو له مخې که چېرته امريکا متحده ايالات د خپلې نظامي کلنۍ بوديجې يوازې دوه فيصده هم مصرف کړي په نړۍ کې روانه د سوء تغذيي ستونزه چې هرکال ۱۷ ميليونه ماشومان په نړۍ کې سوء تغذيي نړۍ ته راځي تر ډېره حل کېږي او د ميليونونو ماشومانو ژوند ژغورلی کېدلای شي. خو دا چې هېوادونه د خپلو ګټو په فکر کې دي او د وژونکو وسلو به جوړولو او پلورلو کې يې ستري ګټې نغښتې دي هيڅکله د انسان ژغورني په برخه کې دومره قرباني نشي ورکولای او يوازې د جګړې د تودولو هڅې کوي او د همدې تودو جګړو څخه د ځان لپاره ګټه کوي.

څکه که له بلې خوا وګورو که چېرته انسانان په نس ماړه وي هغوی جګړو ته نه ځي، هغوی جګړو ته څوک د اجيرو عسکرو په توګه نشي نيولی او هغوی نه غواړي چې ځان د يو څو پيسو لپاره د مرګ خولې ته ورکړي او يا هم د ټيپي کېدلو له امله خپل ټول عمر په نيم ژواندي حالت کې تېر کړي.

د نړۍ په سراسر کې د روانو جګړو لپاره په شکل د اشکالو له فقيرو او بيوزلو کسانو څخه استفاده کېږي او د جګړو لمبو د تودو ساتلو لپاره کرايه کېږي او هغوی هم د خپلې کورنۍ د ژوند او بنه راتلونکي او د ځان د بسياينې او ښه راتلونکي لپاره او د اقتصادي بحران څخه د راوتلو لپاره جګړو ته د مجبورۍ ورځي او يا هم (براين واش) او يا نورو... له لارې لېرل کېږي . ان د اوکراين په جګړې کې هم دهمدې شاته پاتې هېوادونو له وګړو استفاده کېږي ځکه چې د جګړې په اوږدېدلو کې زبرځواکو هېوادونو اقتصادي ګټې نغښتې دي، د نړۍ په سراسر کې د وسلوپلورولو بازار ګرم دی ، په ميلياردونو ډالرو وسلې هره مياشت استعمالېږي او په استعمال سره يې تقاضا ډېرېږي او په همدې سره د هېوادونو او نظامي کمپينو اقتصاد پراخېږي او لوړېږي، په هېوادونو کې د تبليغاتي دستګاوو لخوا ويره خپرېږي خصوصا په سکنډنياوي هېوادونو کې چې نورې وسلې له امريکا او د نړۍ له نورو هېوادونو وپېري ترڅو د راتلونکي له وېرې ځان وساتي او دا ټولې وېرې جعلي دي او يوازې ددې لپاره دي چې د وسلو لپاره بازارونه پيدا کړي ، او د جګړې د اوږدلو او پرمخ بيولو لپاره د بشري ځواک په توګه نادانه او فقير خلکو ته هم اړتيا ده چې د څو پيسو په مقابل کې يې اجير کړي او د جګړې لمبې پرې تودې وساتي او د اوکراين په جګړه کې له همدې طريقې څخه کار اخيستل کېږي

د منځني ختیځ او مرکزي اسیا اوسیدونکي په زیاتیدونکي ډول د اوکراین د جګړې لپاره د پیسو په مقابل کې کرایه کیږي. د منځنی اسیایي جمهوریتونو ځوانان چې د اوکرآین په جګړه کې ښکېل دي د اوکرایني قوماندانانو د تېروتنو له امله په جګړو کې مري. په لسګونو د ورته قضیو راپورنه ورکړل شوي چې څه ډول استخدامېږي. ان اروپایي هېوادونه په دې برخه کې ځانګړي پروګرامونه لري د مثال په توګه په اسپانیا کې د G.O.A. Tactical په نامه شرکت چې خلک د اوکراین جګړې ته په کرایه نیسي او د میاشتې تر ۳۲۰۰ یورو معاش ورکوي او تاسې کولای شئ چې په ګوګل کې یې سرچ کړئ او په اړه یې معلومات تر لاسه کړئ. نو دا ټول هغه شواهد دي چې په جګړو کې او په ځانګړي ډول د اوکراین په جګړه کې د امریکا او برتانیا او نورو هېوادونو ګټې نغښتې دي او ترهغو به یې اوږدوي ترڅو یې چې ګټه وي او چې ګټې یې ختمې شي لکه افغانستان په نیمایي کې به په توره شپه کې ترې وځي او هرڅه به پرخپل ځاي پرېږدي.

فرانسیسکو ګالوان Francisco Galván چې د G.O.A. Tactical کمپنۍ مشر دی وایي چې موږ د اوکراین لپاره مزدور جنګیالي پیدا کوو، روزنه ورکوو او چې په روزنه کې بریالي شي د جګړې میدانونو ته یې لېږو او پیسې ورکوو چې یوه اندازه پیسې د اوکراین د دفاع وزارت او یوه اندازه نور ورته د لویدیځ هېوادونو لخوا ورکول کېږي. نوموړی وایي چې موږ او زموږ په شان نوري دا ډول کمپنۍ په نړۍ کې نورو هېوادونو د دفاع وزارتونو ته ځوان جنګیالي کرایه کوو او د پیسو په مقابل کې یې د جګړې میدانونو ته لېږو.

د منځنی اسیا د قرغزستان د اوش ښار یوې جوړې په دې ورځو کې په رسنیو کې غوغا جوړه کړې ده وایي: چې زوی یې په مني د وټس اپ له لارې زنګ وواهه او ویې ویل چې ښه دنده موندلې ده. ، دا معلومه شوه چې هغه په اوکراین کې و، د اوکراین د وسله والو ځواکونو سره یې یو تړون لاسلیک کړی وو، تر څو له هغو سره په نظامي برخه کې کار وکړي پلار یې چې د اوش په یوه لرې پرته سیمه کې اوسي وایي: زما مېرمن او زه اندیښمن وو، مګر هغه ژمنه وکړه چې موږ ته به پیسې راولیږي. هغه وویل چې محفوظ دی او د توپخانې په برخه کې کار کوي چې تل د جګړې په دوهمه کرښه کې وي او دوی لومړی لیکې ته نه لیږل کیږي. مور او پلار یې وایي چې موږ یوازې دوه ځله پیسې ترلاسه کړې، او بیا زما زوی وویل چې دوی ته نور معاش نه ورکول کیږي - قوماندانانو هرڅه اخیستي. زوی یې لوړپوړي قومندان ته شکایت وکړ او درې ورځې وروسته له تماس څخه ورک شو. دوه میاشتې تیرې شوې، مګر موږ لا هم د هغه د برخلیک په اړه څه نه پوهیږو. همکاران او ملګري یې وایي چې وروستی ځل چې دوی هغه د کورخوو په سیمه کې لیدلی و، هغه نور توپچي نه و، هغه د الوتکو د برید لپاره ګومارل شوی و. معلومات دا وو چې د دوی پوستې د الوتکو لخوا بمبار شوې وې. مور او پلار یې وایي موږ حتی نه پوهیږو چې د خپل زوی جسد چیرته او څنګه ومومو.

هماغه پولنډیان، جرمنیان یا کاناډایان ښایي په جګړه کې له ګډون څخه ډډه وکړي ځکه دوی مرفع ژوند لري او د ژوند ستونزې یې حل دي او همدارنګه هیڅ شی هم له لاسه نه ورکوي. اوکرایني سرتیري لومړۍ لیکې ته لیږل کیږي، دوی هم په اسانه کور ته ستنېدی شي . خو خارجي سرتېري د تیښتې او سرپناه لپاره هیڅ ځای نلري، هیڅوک نشته چې د دوی لپاره ودریږي. قوماندانان یې دوی د دوهمې درجې اتباع ګڼي، پیسې او اسناد ترې اخلي او که راضي نه وي، تر ټولو خطرناکو سیمو ته یې لېږدوي.

د (ډي ډبلیو) جرمني رسنی د خبر له مخې په وروستیو میاشتو کې د اوکراین پوځ روحیه کمزوري شوې ده او همدارنګه ورته درانه زیانونه هم اوښتي او سیمې یې له لاسه ورکړې دي. سرتېري فکر کوي چې په یوه بې پایانه جګړه کې راښکېل شوي دي چې که همداسې روانه وي بې له وژنې او ورانی بله پایله نه لري. نو دا چې په کور دننه

د بشري ځواک له کمبود سره مخ دی ،د استخدام مرکزونو ته چي په دوبي او نور منځني ختيځ او يا اروپا کي دي خپل پام اړولی دی . ځوانانو ته د ښو شرايطو او ښو معاشونو وعدې ورکول کيږي.
نو لنډه دا چي وژني، قتل وراني او ويجاړي تل د بې وزلو، او غربت ځپلو په نصيب وي ولو که د نړی په هره برخه کي وي ځکه دوی د خوراک او ژوندي پاتي کېدو او خپلو ماشومانو د لوږې د اور د مړ کولو لپاره پيسو او کار ته اړتيا لري او نظامي برخو کي کار په کم وخت کي ډېر مالي عايد ترلاسه کول دي خو که ژوندی او روغ پاتي شو او که ووژل شو هرڅه لاړل.